# اوبه يې پاکې او مرداره يې حلاله ده

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی وايې چې: يو سړي له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه پوښتنه وکړه ويې ويل: ای د الله رسوله! موږ په بحر کې سفر کوو، پداسې حال کې چې لږې اوبه راسره وي، نو که چېرته پرې اودس وکړو تنده مو وهي، نو آيا د بحر په اوبو اودس وکړو؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «اوبه يې پاکې او مرداره يې حلاله ده».

[صحيح دی] [أبو داود، الترمذي، النسائي، ابن ماجه او أحمد روايت کړی دی]

يو سړي له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه پوښتنه وکړه، ويې ويل: اې د الله رسوله! موږ په بحري کښتيو کې د ښکار، سوداګرۍ او نورو موخو لپاره سپرېږو او د څښاک لپاره لږې اوبه راسره اخلو، نو که د اودس او غسل لپاره د څښاک اوبه وکاروو، اوبه خلاصېږي او د څښاک لپاره يې بيا نه شو موندلی، نو آيا موږ ته روا دي چې د بحر په اوبو اودس وکړو؟ نو رسول الله صلى الله عليه وسلم د بحر د اوبو په اړه وفرمايل چې: اوبه يې په خپل ځان کې پاکې او نورو شيانو لره پاکوونکي دي؛ نو اودس او غسل کول دواړه پرې روا دي، او هغه څه چې ترې له ماهيانو او کبانو او داسې نورو ځيزونو څخه راوځي حلال دي، که څه هم له ښکار پرته مردار شوي وي.



النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee